# فارماکولوژی

# عمومیات

# درمل پيژندنه

لیکنه او ډیزاین: محمد زاهد "محسن"

# فارمکولوژی Pharmacology

له دوه یونانی کلیمو څخه اخستل شوی ده چې Pharmaco په معنا د دوا او Logy په معنا د علم ده.

فارمکولوژی: هغه علم دی چې د درملو د ترکیب، منشاء، تطبیق، جذب، توزیع، میتابولیزم، اطراح، استطباب، مضاد استطباب، جانبی اغیزو او ډوز څخه بحث کوی.

یا فارمکولوژی هغه علم دی کوم چې د دوا او تداوی په اړه معلومات تر مطالعې لاندې نیسی.

## د فارمکولوژي ډولونه یا برخې:

1. Pharmaco kinetic
2. Pharmaco dynamic
3. Clinical Pharmacolog
4. Toxicology
5. Pharmacy
6. Pharmaco gnocy
7. Bio dis position
8. Pharmaco economic
9. Pharmaco epidemiology
10. Pharmaco vigilance
11. Chemo therapy

## Pharmaco kenetic:

د فارمکولوژی هغه برخه ده کوم چې دواګانو باندې د عضویت تاثیرات تر مطالعې لاندې نیسی، لکه کله چې دوا وه خوړل شی او عضویت ته داخل شی عضویت کوم عکس العمل ور سره ښیی.

## Pharmaco dynamic:

د فارمکولوژی هغه برخه ده کوم چې په بدن باندې د دوا تاثیرات تر مطالعی لاندی نیسی لکه کله چې دوا وخوړل شی دغه دوا په بدن باندې څه اغیزه لری.

## Clinical Pharmacology:

د فارمکولوژی هغه برخه ده چې د ناروغی تشخیص تداوی او وقایه تر مطالعی لاندې نیسی.

## Toxicology

فارمکولوژی دا څانګه زهری موادو د ناوړه اغیزو او د هغوی د **Antidote** څخه بحث کوی. **Antidote** هغه ماده ده چې د بل درمل د زهری اغیزو مخنیوی کوی.

# Pharmacy

د فارمکولوژی هغه برخه ده کوم چې د دوا جوړول او د هغه برابروول تر مطالعی لاندې نیسی.

## Pharmaco gnocy:

د فارمکولوژی هغه برخه ده کوم چې طبعی درمل تر مطالعی لاندې نیسی، لکه یونانی دواګانی.

## Bio dis position:

د فارمکولوژی هغه برخه ده کوم چې د استعمال شوی دوا میتابولیزم او اطراح تر مطالعی لاندې نیسی.

## Pharmaco economic:

د فارمکولوژی هغه برخه ده کوم چې د دوګانو قیمتونه او د هغوی اقتصادی اړخونه تر مطالعې لاندې نیسی.

## Pharmaco epidemiology:

د فارمکولوژی هغه برخه ده کوم چې د ټولنې یو تعداد خلکو باندې د دوا جانبی عوارض تر مطالعې لاندې نیسی.

## Chemo therapy:

د فارمکولوژی هغه برخه ده کوم چې په انتاناتو او حبیثه ناروغیو کې کیمیاوی مواد تر مطالعې لاندې نیسی.

## اساسی درمل(Essential drug

هغه در ملو ته ویل کیږی چې لاندې معیارونه ولری 1.د جامعی صحی نیاز مندی رفع کول 2.په مختلفو وختونو کې کافی مقدار 3.مختلف درملیز اشکال 4.مناسب قیمت
نوټ: که چېرې دغه پورته معیارونه پوره نکړی اساسی درمل نه دی.

## استطبابات (Indications)

دیوې خاصې دوا استعمال د یوې خاصې ناروغی لپاره عبارت د استطباب څخه دی یعنې په دې حالت کې دوا استعمالولې شو.
مثال: Omeprazole د معدې السر په ضد استعمالیږی.
او Propranolol د لوړ فشار په ضد استعمالیږی
همدارنګهInsulin د شکر مرض په ضد استعمالیږی.

## مضاد استطبابات یا Contraindications

هر کله چې یوه دوا په یو حالت یا په یو مرض کې نشو ورکولای دې ته مضاد استطباب وایې یعنې هغه حالت چې درمل نه پکې توصیه کیږی.
مثال: تتراسکلین ماشومانو له نشو ورکولای
لکه Aspirin د معدې مریضانو ته نشو ورکولای
همدارنګه Atorvaslatin مونږ حامله ښځو ته نشو ورکولای.

### جانبی عوارض یا Side effects

د دوا نامطلوبه تاثیراتو څخه عبارت دی چې مریض ته فائده هم رسوی
مثال: anti histamine د حساسیت په ضد استعمالیږی او ماشومانو ته د خوب راوستلو لپاره ورکول کیږی، نو خوب راوستل (Sedation) د انتی هستامین دوا جانبی عوارض دی کوم چې فائده مند دی.

### ناوره اغیزی یا Adverse effects

نامطلوبه تاثیراتو څخه عبارت دی کوم چې انسان ته نقصان رسوی. مثال: اسپرین د معدې السر پیدا کوی کوم چې د دی دوا ناوړه اغیزه ده
همدارنګه پراستامول ځیګر خرابوی
جینتامایسین د اوریدو صلاحیت کموی

# ډوز یا Dose

ډوز یا Dose: د دوا هغه معین مقدار ته وایې کوم چې د متواقع تاسیرات دوز د ترسره کولو لپاره ور کول کېږی. یا د درملو د هغه مقدار څخه عبارت دی چې د یو ځل لپاره ناروغ ته توصیه کیږی

## د ډوزواحدات:

Mg

Micro-gram

Mille liter (ml)

International Unite (IU)

بین المللی واحد (IU) دغه واحد د وزن د واحدونو اجزاوی نه دی بلکې د یو ځانګړی درمل د بیولوژیکی اغیزو معیاری اندازه ګیری ده

د IU او د وزن ترمنځ کوم نسبت شتون نلری. هر درمل د IU بیلې اندازې لری

لکه: د Pencillin یو IU مساوی د 0,6micro-gram سره

د Insulin یو IU مساوی د 45,5micro-gram

## ډوزاژ یا Dosage:

په ورځ کې د ډوزونو د تعداد او دفعاتو د مقدار د تعین څخه عبارت دی چې ناروغ ته توصیه کیږی.

# Dose form

د دوا هغه شکل دی کوم چې د دوا مستخضر مونږ ته را څرګندوی

# Toxeetiy

هغه حالت ته وایی چې د دوا د زیات دوز له کبله په ناروغ باندې ناخوښه حالت مینځ ته راځی او د دوا دقطع کیدو څخه وروسته هم اعراض او علایم موجود وی.

### Interaction or Senargesm:

دواړه یو معنا لری هغه حالت ته وایی که چیرته یوه دوا د بلي دوا تاثیرات متاثره کړی دغه حالت وایې، بل که چیرته یوه دوا د بلي دوا تاثیرات زیات کړی دیته (سینر جزم) وایی.

### Antagonist:

کله چې یو دوا ورکوو او د بلي دوا تاثیرات له مینځه یوسی دیته انتاګونیست وایی.

# درمل یا Drugs:

.څخه اخستل شوې ده چې د وښو په معنا ده Drogue کلیمه د فرانسوی کلیمې Drug درمل د کیمیاوی موادو څخه عبارت دی چې د ناروغی په تداوی، معالجه، مخنیوی یا تشخیص په منظور استفاده کیږی.
یا ډراګ هغه موادو ته ویل کیږی چې د فزیالوژیکو دندو تعدیل او د پتالوژیک حالت د تغیر په خاطر په عضویت کې تطبیق کیږی.

## دوا یا درمل د WHO له نظره داسې تعریف کیږي:

دوا یا درمل د WHO له نظره داسې تعریف کیږي: دوا هغه خام مواد دی چې چ د بدن فزیالوژیکی دندو تعدل او د پتالوژیکی حالت کې تغیرات، او یا په ژوندی انساجو کې دمایع په موخه تطبیق کیږي او دغه تطبیق د ناروغ لپاره ګټه ور وی.

### د دوا یا درملو اهداف:

دوا یا درمل څلور اساسی اهداف لری

1. د ناروغ د Dx یعنې تشخیص کولو لپاره
2. د ناروغ د درملنې لپاره استفاده کول
3. د ناروغ د کنټرول لپاره استفاده کول
4. د ناروغ د وقایه لپاره استفاده کول

### د درملو یا دوا اساسات:

دوا شپږ اساسات لری

1. تحریکول. لکه په قبضیت کې د کولمو حرکت ورکوی
2. ځپل ټکول او یا وهل. لکه په یو ساحه کې مکروب وهی او له منځه وړی
3. مسمومیت منځته راوړی. لکه اسهالات، کانګې ناراحتی
4. مستقیم وژنه. لکه Bi lactum inhibitor دواګانې.

نوټ: Bi lactum inhibitor دواګانې لکه Pencillin او Cephalosporin دی دواړه کورنۍ په ګرام مثبت او ګرام منفی بکتریاوو باندې ښه اغیزه کوی او وژنی

5. د ودی بطی کول، یا اهسته کول د بکتریا
6. د بدن معافیتی حالت کنټرولول.

## درملو نوم ایښودنه (Drug Nomenclature):

### درمل په درې ډوله نام ګزاری کیږی

**1. کیمیاوی نوم(Chemical Name)**

دا نوم د کیمیاوی جوړښت په اساس ورکول کیږی. لکه مثال په توګه، د Aspirin کیمیاوی نوم Acetylsalicylic Acid دی،

نوټ: دغه ډول نوم د ډاکټرانو د علاقې وړ نه دی او په نسخه کې نه لیکل کیږی

**2. جنریک نوم(Generic Name):**

دا نوم د یو کشف کونکی یا ساینس پوه لخوا ورکول شوی وی،

مثال: Paracetamol, Aspirin

نوټ: دغه نوم په نسخه لیکنه کې مناسب دی یعنې په نسخه کې لیکل کیږی.

**3. تجارتی نوم(Brand Name)**

دا نوم د یو کمپنۍ لخوا ورکول شوی وی

لنډ وی، په یادولو یې اسان وی او په نسخه لیکنه کې ترې استفاده کیږی.

مثال: د Aspirin تجارتی نوم Dispirin دی.

اوس راځو د دوا په میکانیزم اغیزمن فکتورونو باندې خبری کوو، چې د دوا په میکانیزم باندې کوم فکتورونه اغیز کوی.

## هغه فکتورونه کوم چې د دوا په میکانیزم باندې تاثیرات راولي عبارت دی له

1.عمر یا Age
2. د بدن وزن یا Body weight
3. نژاد او ارثیت یا Race and generic
4. جنسیت یا Gender
5. فزیالوژیکی فکتور یا Physiological factor

1. عمر یا Age: عمر هغه فکتور دی کوم چې د دوا په میکانیزم باندې تاثیرات راولي.

بیا عمر څلور نوعی لری:

1. د مور په ګیډا کې یو شان تاثیر کوی یعنې فرق لری تاثیر یې
2. نوی زیږیدلي ماشومان په دې بل شان تاثیر لری
3. د 1--2 کلنۍ پوری بل شان تاثیر لری
4. د 12-- 65 کلنۍ پوری بل ډول تاثیر لری.

نوټ: د 12--65 کلنۍ پوری دغه عمر بیا په دوه ډوله دی چې عبارت دی له (12--35) په دغه عمر کې چې هر قسم دوا ورکړی حل کولای شی خو شرط به دا وی چې ناروغ د ځیګر(Liver) او ګردی (Kidney) تکلیف ونلری.

او بل د 35--65 کلنۍ په دې عمرونو کې بیا په ځیګر او ګرده کې جمع کیږی حل کولای نشی.

2. د بدن وزن (Body weight): هره دوا د بدن وزن په مطابق ور کولای شو. که یو سړی ډیر چاق اوسی وزن یې 200 کیلو یا 100 کیلو اوسی نو مونږ باید د دوا مقایسه کولو لپاره(وزن) د 50 کیلو نه جیګ وا نخلو د 50 کیلو په مطابق دوا تطبیق کړو.

3.نژاد او ارثیت (Race and generic): دا هم ډیر فکتور لری د دوا په میکانیزم باندې

بعضی دوا په سپین پوست باندې ښه تاثیر کوی

بعضی دوا په غنم رنګ باندې ښه تاثیر کوی

بعضی دوا بیا په تور رنګ باندې ښه تاثیر کوی.

4. جنسیت یا Gender: بعضی دوا په نارینه باندې ښه کار کوی او بعضی په ښځینه باندې

څلور علتونه دی چې په ښځو باندې دوا ښه تاثیر کوی

1. په ښځه کې شحمی انساج ډیر دی
2. په ښځه کې عضلي سیستم یې کم دی
3په ښځه کې د وینی جریان متغیر دی
4. میاشتنۍ مریضی لری یعنې حیض.

5. فزیالوژیکی فکتور (Physiological factor):

که د فزیالوژیکی حالت څخه ځان یې په پتالوژیکی حالت بدل کړی وی نو داسی ناروغانو ته Historic یا ټک جن ناروغان وای چې دوی ته بیا د پوستکی لاندې Amp Vitamin C یا Amp Water کیږی.

# د دوا د تطبیق وخت

د دواګانو د تطبیق وختونه یو له بله فرق لري مثلآ ځینې دواګانې شته چې تر غذا مخکې یا د غذا په منځ کې او یا د غذا څخه وروسته تطبیق کیږي لکه د خوا ګرځې ضد دوا د غذا څخه مخکې تطبیق کیږي د اشتهاء دواګانې د غذا په منځ کې او مخر شی دواګانې تر غذا وروسته تطبیق کیږي.

د دوا د اطراح سرعت: هغه دواګانې چې له عضویت څخه په سرعت سره اطراح کیږي نو د هغوی تاثیرات کم وی او هغه دواګانې چې په ځنډ سره اطراح کیږي تاثیر یې اوږد وی.

دوا د اشتراک تاثیر: که د ضرورت په وخت کې په یو مریض کې دوه دواګانې په یو ځل تطبیق شي نو یو دوا د بلي دوا تاثیر زیاتوی او یا یې کموی مثلآ یو مریض ته پراسټامول او بروفن یو زای تطبیق کول.

د دوا د جذب سرعت: هر څومره چې یوه دوا ژر جذب شي نو تاثیر یې هم ژر شروع کیږي.

د دوا د تجزیې سرعت: هر څومره چې یوه دوا په بدن کې ژر جذب شي نو تاثیرات یې لنډ وی.

د دوا د تطبیق لارې (Rot of administration): یعنې د کومو لارو مونږ کولای شو چې ناروغ ته درمل تطبیق کړو

دوا مونږ په دری لارو تطبیق کولای شو

1. Interal (مایع له لارې یا کولمو له لارې)
2. Parenteral(زرق له لارې)
3. Topical (موضوعی له لارې)

**Enteral:**

مایع له لارې په دې کې بیا درې برخې شامل دی

1. Oral(خولې له لارې)
2. Sublingual (ژبې لاندې)
3. Rectal (د مقعد له لارې)

**Parenteral(زرق له لارې):**

هغه زرقی لارې کوم چې د دوا د توصیه لپاره ترې استفاده کیږی

1. Intra venus or intravascular(I-V) د ورید له لارې
2. Intramuscular(I-M)داخل د عضله یا غوښه کې
3. Sub cutaneous (S-C) پوستکی لاندې
4. Intra peritoneal(I-P) داخل د پرتوان
5. Intra articular (I-A) داخل د مفصل
6. Intra the cal(I-T) داخل د نخاع

**Topical:**

هغه موضوعی لارې چې د دوا د توصیه لپاره ترې استفاده کیږی

1. Intra nasal(I-N) د پوزې په داخل کې

2. Intra Ossess(I-O) هډوکی په داخل کې

3.Intra Ocular Pressure

د سترګو په داخل کې د فشار لپاره

4. Intra Ventrical(I-V) داخل د بطین

5. Sub cutaneous (S-C) پوستکی کې

6. Suppis otery شیاف

7. Ear drop سترګو قطره

8. Pomede/Cream کریم او ملهم

**Oral**

د خولې له لارې د دواګانو تطبیق کتی

1. تر تولو دواګانو مناسبه طریقه

2. مناسب قیمت لری

3. تر تولو نه خوندی دی یا محفوظ دی

4. تر تولو نه عام دی

5. تر تولو نه اقتصادی دی

6. تعقیم ته اړتیا نشته

7. جزب پراخه ساحه لری

خولي له لارې د دواګانو تاوانونه:

1. په اسانۍ سره زر نه جزبيږي
2. د معدې د تخريش سبب ګرځي
3. د معدې د انزايمونو په واسطه کيداى شي چې دغه دوا تخريب شي
4. دغه دواګانې په سريع شکل سره د ناروغ د ناراحتى سبب ګرځي
5. دغه دواګانې کوم چې د خولي له لارې توصيه کيږى په خاص دوز او وزن سره ورکړل شي.

# د خولي له لارې مضاد استطبابات چې دوا نشو ورکولاى:

1. غيرې شعورى حالت يعنې بې خوشى حالت
2. هغه کسان چې متکرر ډول استفراقات ولرى
3. د شديد انتاناتو اعراض او علايم ولرى.

#. Sublingual

د ژبې لاندې د دوا تطبيق:

هغه دوا چې د ژبې لاندې توصيه کيږى لاندې ګټې لرى

1. جزب يې سريع دى د څو ثانيې اله دقيقې کې جزبيږى او زر تاثير کوى
2. په عاجلو واقعاتو کې استعماليږى
3. د وينې دوران ته مستقيماً داخليږى
4. په اسانۍ سره تطبيق کيداى شى
5. د حاضمى انزايمونه د د تخريب څخه ژغورل کيداى شى
6. معده د تخريب څخه ژغورى.

## هغه دواګانې چې د ژبې لاندې توصیه کیږي لاندې تاوانونه لري

1. که چېرته دوا په لوړ دوز سره تطبیق شي د رګونو د غونجیدو سبب ګرځي
2. د ژبې لاندې دواګانې په زیاته اندازه نشو تطبیق کولی
3. که چېرته د ژبې لاندې دوا په متکرر شکل استفاده شي د ژبې د مخاط تخریب سبب ګرځي.

د ټابلیټونو خوړل بیا په دوه قسمه دي

1. Swallowing تیرول یعنې ټابلیټ په پوره شکل سره تیرول
2. مزه یې تیرول یا چوشیدن(Chewible)

## د مقعد له لارې د دواګانو توصیه کول:

**ځینې درمل شته چې په رکتوم کې ایښودل کیږي او له دې لارې جذبیږي**

مقعد له لارې د دوا توصیه کول په لاندې حالاتو کې استطباب لري

1. هغه ناروغان چې Comatose ولري یعنې شعوري حالت نلري یعنې بې خوشه وي
2. هغه کسان چې د معدې تخریشي ولري
3. د ضرورت په وخت کې هر څوک دغه عملیه تر سره کولای شي
4. هغه کسان چې متکرر ډول استفراقات ولري
5. هغه کسان چې عمرونه یې زیات وي
6. په عاجلو واقعاتو کې

## د مقعد له لارې د دواګانو د تطبیق ګټې

1. جذب یې سریع دی
2 عمل یې اسان دی
3. په اسانه تطبیق کیدای شي

## د مقعد له لارې د دوا د تطبیق تاوانونه:

1. جذب يې غیر منظم او ناقص دی
2. د مقعد د مخاط د تخریب سبب ګرځي
3. کیدای شي چې د مقعد د التهاب سبب وګرځي یعنې د انتان مداخله
4. ناروغ د شرم احساس کوي

## د دوا د تطبیق زرقي لارې Parenteral Rout

د هغې لارې څخه عبارت دی چې دوا پغیر د هضمې سیستم څخه د نورو لارو څخه د وینې دوران ته جذب شي او تاثیر وښیې.
کومه دوا چې د زرقی له لارې تطبیق کیږی لاندې ګټی لری:

1. د دواګانو تاثیر يې سریع دی
2. خوا ګرځې او اسهالاتو په وخت کې د دې لارې څخه ګټه اخستل کیږی
3. په عاجلو واقعاتو کې انتخابی لار ده
4. په متکرر استفراقاتو کې توصیه کیږی یعنې استفراق چې يې زیات وی
5. په کوماټوس Comatose حالت کې توصیه کیږی یعنې بې خوشی حالت کې
6. هغه کسان چې د معدې مشکیل ولری.
7. ددې لارې څخه د دوا جذب پوره ده
8. هغه دواګانې چې ډیر حجم لری ددې لارې څخه تطبیق کیږی
9. هغه دواګانې چې د نورو لارو نه جذبیږی

## زرقي له لارې د دوا تطبیق تاوانونه:

1. زرقی دوا یو غیر رجعی او بیرته نه راستنیدونکی دوا ده یعنې بیرت برګشت نلری
2. د درد سبب ګرځی
3. د ویرې سبب ګرځی
4. انتان ته د داخلیدو لپاره زمینه مساعده وی
5. د عصب او رګونو د تخریب خطر موجود دی.

## په دې لاره کې لاندې لارې شامل دي

پوست په داخل کې یا Intra Dermal(I-D)
په دې طریقه کې دوا د پوستکی په درم طبقه کې زرقیږی ددې لارې څخه دوا ډیر لږ مقدار تطبیق کیږی لکه واکسینونه، د توبرکلوز ټیسټ او د الرژې ټیسټ

تر پوست لاندې یا Sub Cotaneus(S-C)
په دې طریقه کې دوا د پوست لاندې زرق کیږی لکه انسولین.

# په غوښه کې یا Intramuscular (I-M)
په دې طریقه کې دوا په عضله کې زرق کیږی او په دې لاره کې باید دوا د 3-4 سی سی څخه اضافه نه وی.

# انتي بیوتیکونه Antibiotics

تعریف انتی بیوتیک هغې مادې ته ویل کېږی، چې له یو مایکرو ارګانیزم څخه را منځته یا مشتق شوی او نور مایکرو ارګانیزمونه تخریبوی یا د هغو وده دروی یا یې هم را کموی

**پر همدې بنسټ انتی بیوتیکونه پر باکتریا وو باندی د اغېز له پلوه په دوو مهمو**

1. بکتریو استاتیک(Bacteriostatic ) باکتریا د ودې او نمو دروونکی
2. بکتریسیدل (Bactericidal )د باکتریا وژونکی باندې وېشل کېږی.

## د انتي بیوتیکونو د کارولو په اړه

1. انتی بیوتیکونه له باکتریاوی پرازیتی او فنګسی ارګانیزمونو څخه د رامنځته شوو انتاناتو د درملنې لپاره کارول کېږی، چې له هغو سره حساس دی وسیع الساحه انتی بیوتیکونه یا (براډ اسپکټرم Broad Spectrum انتی بیوتیک ) په بدن کې د بې ضرره ارګانیزمونو د یو یا څو ګروپونو تخریبولو سره شاید د هغو د طبعی میکروبي پوښښ د بدلون سبب شی او له دی مخی شاید په بدن کې له مقاومو ارګانیزمونو څخه د رامنځته شوو انتاناتو شاهد واوسو، همدارنګه شاید د هغو مایکروارګانیزمونو په وړاندې مقاومت ولیدل شی، چې د انتی بیوتیکونو نیمګړی دوز سره تر درملنې لاندې نیول شوی دی.
2. له انتی بیوتیکونو څخه د کوچنیو او ناچیزو انتاناتو په وړاندې چې د درملو له مرستې پرته له منځه ځی، باید ګټه وانه خیستل شی.

تیر درس ادامه

3. په اوسنی عصر کې په ځانګړی ډول زموږ په هېواد کې، د درملو ډېره کارونه انتی بیوتیکونه جوړوی او انتی بیوتیکونه د ناروغانو د رغېدنې او بهبود په برخه کې ارزښتناک او مهم نقش لوبوی، له بلې خوا انتی بیوتیکونه هغه مهم در مل دی، چې د بېځایه کارونې وړ ګرځی.

4. د انتی بیوتیک د کارونې په وخت کې کوربه عوامل لکه عمر، جنس جنیتیکی اختلالات د (G6PD نشتون) بلاربښت او د ځیګر او پښتورګو فعالیت باید په پام کې نیول شوی وی.

5. په انتی بیوتیکونو سره د درملنې د وخت موده باید په بشپره کچه په پام کې ونیول شی، پر همدې بنسټ انتی بیوتیکونو سره د درملنې د سریری نښو له منځه تلو وروسته هم باید د لنډې مودې لپاره دوام پیدا کړی، ترڅو د ناروغۍ د راګرځیدو تصور له منځه لاړ شی.

6. د انتی بیوتیکونو د تطبیق لاره باید په کره او سم ډول غوره شی.

7. د دوو یا څو انتی بیوتیکونو هممهاله کارونه یوازې په ځینو ځانګړو حالتونو کې توصیه کېږی، چې د اغېز د میکانیزم، د درملو د تداخل او د متقابلو اغېزو د سمې مطالعې او پوهېدنې اړتیا پېښوی.

تیر درس ادامه

7. د دوو یا څو انتي بیوتیکونو هممهاله کارونه یوازې په ځینو ځانګړو حالتونو کې توصیه کېږی، چې د اغېز د میکانیزم، د درملو د تداخل او د متقابلو اغېزو د سمې مطالعې او پوهېدنې اړتیا پېښوی.

8. انتی بیوتیکونه د باکتریا ضد دی او پر وایرسونو باندې هېڅ اغېز نه لری.

9. د امکان په صورت کې باید ، د درملنې لپاره د انتی بیوتیکونو له پیل څخه مخکی د باکتریاوی پتوجن عامل و پیژندل شی او بیا هغه انتی بیوتیک چې ورسره حساس دی، وټاکل شی.

10. له یو ځانګړی پتوجن ارګانیزم څخه د رامنځته شوی حساسیت د درملنې لپاره د څو انتی بیوتیکونو کارول د درملنې معقوله لاره نه ده.

11. د انتی بیوتیکونو د کارولو طریقه او موده د ناروغۍ په ډول او د ناروغ په وضعیت پورې تړاو لری، چې د انتی بیوتیکونو د مقدار ټاکلو ، د کارولو د مودې او د کارونې د طریقې په اړه باید په خپل سری ډول عمل ونه شی.

## د انټي بیوټیکونو د اغېزو له مخې د هغو وېشنه

١ . هغه انتی بیوټیکونه چې د مثبت ګرام د ارګانیزمونو په وړاندې ډېر فعال دی دا دی.

| | |
|---|---|
| پین سیلینونه | Penicillins |
| کلیندیمایسین | Clindamycin |
| کلوګزاسیلین، | Cloxacillin |
| اریترومایسین | Erythromycin |
| فلوکزا سیلین، | Fluxacillin |
| ونکومایسین. | Vancomycin. |

د انټي بیوټیکونو د اغېزو له مخې د هغو وېشنه

2. هغه انتی بیوټیکونه چې د منفی ګرام د ارګانیزمونو په وړاندې د بې دیر فعال دی دا دی.

| | |
|---|---|
| امیکاسین، | Amikacin |
| جنټامایسین | gentamicin |
| کینامایسین، | kanamycin |
| توبرامایسین، | tobramycin |
| ټیکارسیلین | ticarcillin |

## د انتي بيوټيکونو د اغېزو له مخې د هغو وېشنه

### 3. هغه انتی بیوتیکونه چې د مثبت ګرام او منفی ګرام د ارګانیزمونو په وړاندې ډېر فعال دی، دا دی

| | |
|---|---|
| Amoxicillin | اموکسی سیلین، |
| ampicillin | امپی سیلین، |
| ampicillin | بکمپی سیلین |
| carbanicillin | کاربنی سیلین، |
| Carbocillin | کار فسیلین |
| cephalosporins, | سیفالوسپورینونه |
| chloramphenicol | کلورامفینیکول |
| cyclamen | سیکلاسیلین |
| imipenem | امیپینم، |
| neomycin | نئومایسین |
| tetracyclines. | تتراسکلینونه |

4. هغه انتی بیوټیکونه چې د توبرکلوز ناروغۍ په وړاندې کارول کېږي، دا دي:

کپرومایسین، Cupromycin

سیکلو سیرین cycloserine

ریفامپین، rifampin

استرپتومایسین streptomycin

او ځینې نور and others

# Penicillin G potassium

پین سیلین G پوتاشیم، په چټکۍ سره د معدې د اسید په واسطه تجزیه کیږي، له دې مخې د خولې له لارې اغېزناک نه دی او باید د عضلې د زرق له لارې او کله کله د وریدی انفیوژن دننه په ډېر ورو شکل سره تطبیق شي.

## در ملیز شکل

در ملیز شکل د وریدی او عضلي زرقی ویالونو او ۵ میلیونه نړیوال واحده

## استطباب:

سینه بغل، پنومونیا ، د ستونی انتانات، د وسطی غور التهاب منتجیت منګو کو کسی اند کارډیټ، عصبی سفلیس، تور ټپ، راګرځېدونکې تبه دماغی آبسه د کانګرین ګاز استومایلیت

## استطباب مضاد

له پین سیلینونو او سیفالوسپورینونو سره حساسیت

## ډوز

ډوز لویان ۵۰۰۰۰۰۰ واحده تر ۱ میلیونه واحده د ورځې ۴ ځله، ډېرې ورځې ۱۰ میلیونه ماشومان ۷۱۴۵۰ واحده د بدن فی کیلو ګرام وزن، د ورځې ۴ ځله، یاد معالج ډاکټر د لارښوونې مطابق

## جانبي عوارض

جانبی عوارض انا فلکتیک شوک د پوستکی خارښت، خطرناکه او زیات حساسیتونه او د مفصلونو درد.

# Penicillin G sodium

پین سیلین G پوتاشیم، په چټکۍ سره د معدې د اسید په واسطه تجزیه کېږی، له دې مخې د خولې له لارې اغېزناک نه دی او باید د عضلې د زرق له لارې او کله کله د وریدی انفیوژن دننه په ډېر ورو شکل سره تطبیق شی.

## در ملیز شکل

در ملیز شکل زرقی ویالونه 5000000 نړیوال واحد

## استطباب:

غاښونو په جراحۍ کې له اندیوکارډیټ څخه وقایه، سینه بغل نومونیا ، د ستونی انتانات، د وسطی غوږ التهاب، مننجیټ، عصبی سفلیس تور ټپ، راګرځېدونکې ،تبه دماغی ، آبسه کانګرین ګاز استومایلیت

## استطباب مضاد

له پین سیلینونو او سیفالوسپورینونو سره حساسیت

## ډوز

لویان ۲ میلیون واحده ، د جراحی له عمل څخه ۳۰ تر ۶۰ دقیقو وړاندې او بیا یو میلیون واحده له جراحی څخه ۶ ساعته وروسته، عضلي یا وریدی
ماشومان ۲۵۰۰۰ تر ۳۰۰۰۰۰ واحده د بدن فی کیلو ګرام ،وزن عضلي یا وریدی زرق، یاد معالج ډاکتر د لارښوونې مطابق.

## جانبي عوارض

جانبی عوارض انا فلکټیک شوک د پوستکی خارښت، خطرناکه او زیات حساسیتونه او د مفصلونو درد.

# Penicillin G Procaine

پروکائین G پین سیلین دغه انتی بیوتیک باکتری سیدیل دی، چې د باکتریا د حجروی محافظتی دېوال سنتیز خنډ ګرځی.

## در ملیز شکل

۴۰۰۰۰ ، ۱۰۰۰۰۰ ، ۳۰۰۰۰۰ ، ۸۰۰۰۰۰، ۲۰۰۰۰۰ او ۸۰۰۰۰۰ نړیوال واحده، زرقی ویالونه

## استطباب:

متوسط سیستمیک انتانات نه شدید حساس ارګانیزمونه

## استطباب مضاد

له پین سیلینونو او سیفالوسپورینونو سره حساسیت جانبی عوارض انا فلکتیک ،شوک تشنج، د زړه عدم کفایه، نس ناستی کانګې، زړه بدوالی د وینې کمښت لکوپنیا ، د پوستکی حساسیتونه

## ډوز

لویان او د بدن د ۲۵ کیلو ګرامه وزن لرونکی کسان ۴۰۰۰۰۰ واحده عضلي زرق له هرو ۱۲ تر ۲۴ ساعتونو وروسته یا د معالج ډاکتر د لارښوونې مطابق.

**د درملو متقابلې اغېزې** پروبینیسیډ ، کلورام فنیکول

# پینسلین وی Penicillin V

پین سیلین وی د حساسو ارګانیزمونود حجروی دېوال زیاتېدو کې لاسوهنه کوی، چې په پایله کې حجروی دېوال له اسموټیک پلوه شکل بدلوی او د فشار له کبله یې پرسېږی او څېرې کېږی.

## در ملیز شکل

۲۵۰ او ۵۰۰ ملي ګرامه فمی ټابلېټ او یو ۲۵۰ ملی ګرامه تابلېټ په ۵ ملي لیټره فمی سسپنشن کې.

## استطباب:

نکروز السترانیف، له پنومونیایی انتاناتو څخه وقایه، د تنفسی مجرا انتانات، فرنجیټ، د وسطی غوږ التهاب، سرخباد ، د خولې د جوف انتانات، د روماتیزم د ثانوی تبې وقایه، د مثبت ګرام او منفی ګرام کوکسی کان.

## استطباب مضاد حساسیت او د ځیګر ستونزې

## جانبی عوارض

د ژبې توروالی، نس ناستی، کانګې، زړه بدوالی، د وینې کمښت، د پوستکی حساسیتونه تشنجی حملې.

## ډوز

د پنومونیایی انتاناتو لپاره لویان ۲۵۰ تر ۵۰۰ ملي ګرامه د ورځې ۴ ځله له ۱۲ کلونو څخه کم عمری ماشومان د لویانو نیمایی ډوز یا د معالج ډاکتر د لارښوونې مطابق.